# د عادلانه اوریدني کتابګوټی

ایالت Washington
Supplemental Nutrition Program
(د ښځو، (WIC) For Women, Infants and Children
کوچنیانو او ماشومانو لپاره د اضافي غذاییت پروګرام)

Washington WIC Program

DOH 962-105 December 2021 Pashto

# عادلانه اورېدنه څه ده؟

عادلانه اورېدنه حقوقي اورېدني ته ویل کیږي. په عادلانه ا ورېدنه کې به تاسو خپله کیسه قاضي ته کوئ. قاضي د Women, Infants and Children (WIC)، ښځي، کوچنیان او ماشومان) پروګرام سره څه تړاو نه لري. قاضي به دا قضاوت کوي چې آیا د WIC پروګرام ستاسو سره په عادلانه توګه چلند کړی او کنه.

## د عادلانه اورېدني د غوښتني لاملونه څه دي؟

تاسو د عادلانه اورېدني غوښتنه کولای شئ که چیرې WIC:

- تاسو ته د کوم علت له کبله وایي چې د دې پروګرام لپاره وړ نه یئ او تاسو فکر کوئ چې هغوی په غلطه دي.
- تاسو د دې پروګرام څخه وباسي او تاسو فکر کوئ چې دا بې انصافي ده.
- له تاسو څخه غواړي چې دې پروګرام ته پیسې واپس کړئ.

## زه به څنګه د عادلانه اورېدني غوښتنه کوم؟

تاسو به د عادلانه اورېدني د غوښتني فورمه (Fair Hearing Request Form) ډکه کړئ یا به لیک ولیکئ او دې ادرس ته به یې واستوئ:

Department of Health
Adjudicative Service Unit
P. O. Box 47879
Olympia, Washington 98504-7879

په دغه لیک کې تاسو باید خپل نوم، ادرس، د WIC د کلینیک نوم او د عادلانه اورېدني د غوښتني علت ورکړئ. که تاسو ترجمان ته اړتیا لرئ، لطفاً موږ ته خبر راکړئ.

## د عادلانه اورېدني لپاره د وخت محدودیت شته؟

**هو.** د هغه لیک له نیټي څخه وروسته چې وایي تاسو د WIC لپاره وړ نه یئ، یا کله چې د WIC څخه وویستل شئ، یا تاسو اړتیا لرئ چې دې پروګرام ته پیسې واپس کړئ، تاسو 60 ورځې د عادلانه اورېدني د غوښتني لپاره لرئ.

## زه به بیا هم د WIC د خوړو ګټي ترلاسه کوم؟

**ښایي تاسو** د WIC خوړو ګټې **<u>ترلاسه کړئ</u>** که چیرې تاسو په دغه وخت کې د WIC لپاره وړ یئ او تاسو د هغه لیک له نیټي څخه، چې وایي تاسو د WIC پروګرام څخه وویستل شوئ، په 15 ورځو کې دننه د عادلانه اورېدني غوښتنه وکړئ.

**تاسو** به د خوړو ګټې **نه** ترلاسه کوئ که چیرې ستاسو د وړتیا موده ختمه شوې وي.

**تاسو به** د خوړو ګټې **نه** ترلاسه کوئ که چیرې تاسو د هغه لیک له نیټي څخه، چې وایي تاسو د WIC پروګرام څخه وویستل شوئ، په 15 ورځو کې دننه د عادلانه اورېدني غوښتنه ونه وکړئ.

## که زه د عادلانه اورېدني غوښتنه وکړم نو زما حقوق څه دي؟

- په کومه نېټه چې تاسو د عادلانه اورېدني غوښتنه وکړه، له هغې څه په 21 ورځو کې به دننه ستاسو اورېدنه ترسره کیږي.
- د اورېدني خبرتیا باید تاسو ته لږ تر لږه له اورېدني څخه 10 ورځې مخکې در ورسي.
- اورېدنه باید ستاسو د اوسیدو د ځای سره نږدې ترسره کړل شي.
- تاسو د مرستي لپاره نور خلک راوستلای شئ، او حقوقي مرسته ترلاسه کولای شئ.
- تاسو او هغه کسان چې ستاسو سره مرسته کوي، هغه ثبتونه کتلی شئ چې د WIC پروګرام یې په اورېدنه کې وړاندې کوي.

**که زه عادلانه اورېدني له نه شم تللای نو څه به کیږي؟**

که تاسو نه شئ کولای چې اورېدنې ته حاضر شئ، نو باید دمخه قاضي ته خبر ورکړئ. د اورېدنې لپاره به نوې نیټه وټاکل شي.

**په عادلانه اورېدنه کې څه کیږي؟**

- قاضي عادلانه اورېدنه ترسره کوي.
- قاضي به ستاسو او د WIC د کارکونکیو خبرې واوري. قاضي به دا ډاډه کوي چې ستاسو سره په منصفانه توګه چلند وکړل شي.
- تاسو پوښتنې کولای شئ او معلومات، شواهد یا ثبوت وړاندې کولای شئ.
- تاسو دا وضاحت کولای شئ چې ولې تاسو یا ستاسو ماشوم/ماشومه د WIC لپاره وړ یئ، ولې باید تاسو په دې پروګرام کې پاتې شئ، یا ولې باید تاسو پیسې واپس دې پروګرام ته تادیه نه کړئ.
- قاضي به د ثبوت په رڼا کې دا پریکړه کوي چې آیا تاسو د WIC لپاره وړ یئ او کنه، یا دا چې په دې پروګرام کې پاتې کیدی شئ او کنه، یا دا چې WIC پروګرام ته به پیسې واپس ورکوئ او کنه.
- قاضي باید ستاسو د اورېدنې د غوښتنې له نیټې څخه په 45 ورځو کې دننه پریکړه وکړي. تاسو به په پوسته کې د قاضي د پریکړې لیک ترلاسه کړئ. د پریکړې په دغه لیک کې به یوه خبرتیا شامله وي چې د بیاکتنې لپاره غوښتنه (Petition for Review) بلل کیږي.

**که زه د قاضي د پریکړې سره موافق نه یم نو څه به کیږي؟**

تاسو د Department of Health (روغتیا د څانګې) له سیکرټري څخه غوښتنه کولای شئ چې د دغه پریکړې بیاکتنه وکړي.

د پریکړې خلاف د استیناف لپاره، د بیاکتنې لپاره غوښتنه (Petition for Review) بشپړه کړئ او د Department of Health، Adjudicative Service Unit ته یې په پوسته واستوئ. تاسو باید دا غوښتنه د پریکړې د لیک له نیټې څخه په 15 ورځو کې دننه واستوئ.

د Department of Health سیکرټري به دغه پریکړه تغیر کړي، که چیرې:

- په قانون کې څه تیروتنه وي.
- اورېدنه په سمه توګه نه وه ترسره شوې.
- قاضي څرګندې لارښوونې نه وي ورکړې.
- د پریکړې د توجیه کولو لپاره مناسب ثبوت موجود نه و.

تاسو د سیکرټري د پریکړې خلاف د محکمې د بیاکتنې کولو حق لرئ. د سیکرټري په لیکل شوې پریکړه کې به دا لارښوونې شوې وي چې د محکمې د بیاکتنې غوښتنه به څنګه کوئ.

**که تاسو د عادلانه اورېدنې په اړه څه پوښتنې لرئ، خپل د WIC کلینیک یا د WIC ایالتي دفتر ته زنګ ووهئ. د ایالتي دفتر ټول فري شمیره 1-800-841-1410 ده.**

د عادلانه اورېدنې کړنلارې د Federal WIC Program Regulations (فدرال د WIC پروګرام د مقرراتو) د برخه 246.9 CFR7 او د Washington Administrative Code (واشنګټن د اجراییوي قانون) 10-246 او 520-08-246 پر اساس وي.

**د مخنیوي او ټولنيزې روغتيا څانګه**
**د غذایيت د خدماتو دفتر**
**د Washington WIC پروګرام**

**Washington WIC تبعيض نه کوي.**
د فدرال د مدني حقوقو د قانون او د U.S. Department of Agriculture (USDA، متحده ایالاتو د کرنې وزارت) د مدني حقوقو د مقرراتو او پالیسیو له مخې USDA، د دې موسسې، دفترونه او کارکوونکي، او هغه سازمانونه چې د USDA په پروګرامونو کې برخه اخلي یا دا اداره کوي، د USDA له خوا په ترسره کیدونکي یا تمویلیدونکي پروګرام یا فعالیت کې د پورته ذکر شوي حقوقو د فعالیت لپاره د توکم، رنګ، ملي مبدا، جنس، معيوبيت، عمر، انتقام یا غچ اخیستنې پر اساس له تبعیض څخه منع کيږي.

هغه معیوبیت لرونکي کسان چې د پروګرام د معلوماتو په اړه د ارتباط بدیلو وسیلو ته اړتیا لري (لکه، بريلي، غټ چاپ، آډیو ټيپ، د آمریکې د اشارو ژبه، او داسې نور) باید له هغه (ایالتي یا محلي) موسسې سره اړیکه ونیسي چیرې چې دوی د ګټو لپاره عریضه کړې وه. هغه کسان چې په غوږو درانه وي، په اوریدو یا خبرو کې مشکل لري، د USDA سره د فدرالي ریلی خدمت له لارې په 8339-877 (800) اړیکه نیولی شي. همدغه راز، د دې پروګرام معلومات د انګلیسۍ سربېره په نورو ژبو کې هم وړاندې کیدی شي.

په دې پروګرام کې د تبعيض د شکایت کولو لپاره، د [USDA د پروګرام د تعبیض د شکایت فورمه](#) (یوازې انګلیسي)، (AD-3027) بشپړه کړئ، چې آنلاین یې دلته ترلاسه کولی شئ: [شکایت به څنګه درج کوئ](#) (یوازې انګلیسي), او د USDA په هر دفتر کې، یا د USDA په ادرس لیک واستوئ او په دغه لیک کې د فورمې غوښتل شوي ټول معلومات ورکړئ. د شکایت د فورمې د نقل غوښتلو لپاره، 9992-632 (866) ته زنګ ووهئ. خپله بشپړ شوي فورمه یا لیک USDA ته په لاندې ادرس واستوئ:

پوسته: U.S. Department of Agriculture
Office of the Assistant Secretary for Civil Rights
1400 Independence Avenue, SW
Washington, D.C. 20250-9410;

موږ ته په دې پته برېښنالیک واستوئ: [program.intake@usda.gov](mailto:program.intake@usda.gov)

فاکس: (202) 690-7442

دا سازمان مساوي فرصت چمتو کوونکی دی.
Washington WIC تبعيض نه کوي.

په بله بڼې د دې سند د غوښتنې لپاره، 1-800-841-1410 ته زنګ ووهئ. کاڼه یا هغه مشتريان چې په اوريدو کې ستونزه لري، مهرباني وکړئ 711 (Washington Relay) ته زنګ ووهئ یا [WIC@doh.wa.gov](mailto:WIC@doh.wa.gov) ته برېښنالیک واستوئ.